

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الحمدلله الذی هدنا الی الاسلام و ما کنا لنهتدی لولا ان هدانا الله هو الرحمن علم القران خلق الانسان علم البیان هو الرب الاکرم الذی علم بالقلم علم الانسان مالم یعلم له الحمد کما یمبغی لجلال وجهه و عظیم سلطانه و جلیل انعامه الذی علمک مالم تعلم و کان فضل الله علیک عظیم.**

**وصل الله تعالی علی خیر خلقه الذ ارسله الی کافه الناس بشیراً و نذیراً وصلی الله تعالی علی خیر خلقه و اصحابه اجمین.**

**آما بعد:**

## فقد د دعاء محتاج

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(قد افلح المومنون«»الذین هم فی صلاتـهم خشعون«»)**(المومنون)

**ترجمه:** په تحقیق سره کامیاب شول مومنان هغه چه په مانځه کی خپل کی عاجزی کونکي وي.

**تشریح:** مقصد دا دی چی باید مونږه او تاسو پخپلو مونځونو کی عاجزی وکړو

عاجزی معنا دا چه خپل مونځ په طریقه سره ادا کړو مثلاٌ رکوع،قیام،قرات،سجده،قاعده،قومه،جلسه، او نور ټول ارکان په ښه طریقه سره ادا کړو ټول سوچ او فکر مو باید الله (ج) طرف ته وی او د دنیا فکرونه ټول د( ۱۰) دقیقو لپاره هیر کړو ځکه په هر مونځ باندې (۱۰) دقیقی وخت نه لږی

کوم انسان چی مانځه کی د دنیا سوچ او فکر وکړی د هغه مونځ نه کیږي ځکه مونځ نه کیږي چی دغه کس نه پوهیږي چی ما په مانځه کی سه وویل ځکه فکر یی بل خوا وی او د مونځ هر یو څیز به تری پاتی شی باید مونږه او تاسی په مانځه دا فکر وکړو چي زع په مانځه کی سه وو ایم ځکه چی په مانځه کی مونږ نه سه پآتی نه شی که کوم څیز په مانځه کی پآتی شی نو مونځ ناقص کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت اوبوهريره(رض) د نبی کريم(ص) نه نقل کوي چی يو ځلې ارشاد وفرمايل چې وښايه ماته هغه کس د چا د دروازی مخکی يو نهر وی چی هغه پکې (۵) ځلی روزانه غسل کوي ايا د هغه په بدن باندی به سه خيره پاتی شی اصحابو عرض وکړو چې هيڅ به پآتی نشی نو نبی کريم (ص) اوفرمايل همدغه حال د پنځه مونځونو دی چې الله (ج)د دې په وجه ګناهونه لرې کوي.

د نبی کريم (ص) ارشاد مبارک دی چی الله (ج) ارشاد فرمايلی چی ما ستا په امت باندی پنځه مونځونه فرض کړي دی

د دې ذمه وارې کړی ده چی څوک دا پنځه مونځونه پخپل وخت کی د اداء کولو کوشش وکړی هغه پخپل ذمه داریَ جنت ته داخلوم

او سوک چی لمونځ نه کوی پر ما يی سه ذمه وارې نشته.

حضرت عبدالله بن قراط (رض) روايت کوی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد وفرمايه: چی بنده نه په قيامت کی د ټولو نه مخکی د مانځه پوښتنه کيږی نو که مونځ يی صحيح شو نو باقی اعمال هم صحيح شی او که مونځ ی خراب وختلو نو باقی اعمال هم خرابيږی .

**تشريح:**يعنې مقصد دا ده چی اودس يی په غلطه طريقه وی په کی اخوا ديخوا ګوری رکوع،سجده، صحيح نه وی قومه او جلسه او قرات او توجو يی برابر نه وی تسبيحات پکی صحيح نه وی او په مانځه کی نوری غلطيانی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت ابو هريره (رض) نه روايت ده چی رسول الله نفل مونځ

تر دی حده کولو چی ښپی مبارکی به یی اوپړسیدی چا تری تپوس وکړو چی حضور(ص) تاسو ته خو الله (ج) د مخکی او وروسته ټول ګناهونو د معافۍ زیری کړی نو بیا ولی دومره زیات تیروی نو حضور (ص) وفرمایل چی ایا زه بیا د الله(ج) شکر ویستونکی بنده جوړ نشم(شمایل ترمذی)

**تشریح**:تاسو فکر وکړئ چې رسول الله (ص) د ټولې دنیا سردار او صاحب د لويې درجې ده هغه مبارک به دومره عبادت کوه چی قدمونه مبارک به یی وپرسیدل نو مونږ.ه او تاسو خو امتیان یو

چی رسول الله(ص) دومره عبادت کولو چی قدمونه مبارک به یی وپړسیده حال ده چی رسول (ص) د وړو او لویو ګناهونو پاک وه

نو مونږ او تاسی خو ډیر ګنهکار یو باید نفل مونځونه ډیر وکړو

چی الله (ج) زمونږ ګناهونه د عبادت کولو په وجه معاف کی

الله (ج) د مونږ او تاسو ته توفیق راکړی چی د وخت نه فایده واخلو او عبادت وکو.

حضرت عبدالرحمن بن عمر(رض) فرمایی چی رسول الله(ص)

وفرمایل:چا چی د ماسخوتن لمونځ جمع سره وکړو نو نیمه شپه به یې عبادت کی شمیرلی شی که چیری دې سړي د سحر مونځ هم په جمع وکړو نو ټوله شپه به یې په عبادت کی شمار شي(مسلم شريف)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تشریح:**دا دمسلمانو د پاره یو ډیر ښایسته او غټ زیری ده چی د ماسخوتن او د سحر د مونځ په وجه ټوله شپه  په عبادت کی حسابیږی چې دا ویده وی او فرشتی د ده په عملنامه کی نیک اعمال لیکی خو شرط پکی دا ده چی ماسخوتن لمونځ سخه وروسته خپل وخت په فضولیاتو تیر نه کړی او د قران کریم نه څه لږه حصه تلاوت وکړی یا تقرایر تبلیغ وکړی یا ذکر اذکار وکړی

دی حدیث نه دا معلومه شه چی چا د ماسخوتن لمونځ نه وروسته وخت په عباثیاتو کی تیر کړی نو دی کس ته به دا ثواب نه ورکول کیږی.

الله (ج) د مونږ ته توفیق راکړی چی وخت عبث تیر نه کړو

حضرت جابر(رض)نه روایت ده چی رسول الله (ص)وفرمایل: د ټولو نه زیات ثواب د مانځه هغه چاته ورکول کیږی چی کور یی د مسجد نه لرې وی او مسجد ته د مانځه لپاره له کور سخه ځی.

**تشریح:**د دې حدیث نه معلومه شوه چی یو انسان د کور نه روان شی خاص د الله(ج)رضا لپاره د مانځه په نیت او په لاره کی د الله(ج) ذکر کوی او فضولیات نه وای او په لارکی خزو ته نه ګوری او بل مخصد یی هم نه وی او په لاره کی دنیاوی خبری هم نه کوی بغیر د ضرورت نه او که چا تری سوال وکړو او ده جواب ورکړ نو مشکل نشته فضول په دی معنا چی نه دی دنیا ګټه پکی وی نه ده اخرت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمر بن حسن(رض) چی رسول الله (ص) وفرمایل :

چی لمونځ په ولاړه کوی او که د کوم عذر په وجه ولاړ نشی کولی نو په ناسته دی لمونځ کوی  او که په ناسته هم نشی کولی نو بیا د په ملاسته کوی(بخاری)

**تشریح:**د دې حدیث نه معلومه شوه چی په یو حالت کی هم یو انسان ته اجازت نشته چی لمونځ پریږدی او که په ملاسته هم نشی کولی نو بیا ورته معاف دی چی په ملاسته هم کولی شی نو د پریخودو اجازه نشته

اوس نو تاسی په دی وخت کی وګوری چی د چا په سر درد هم شی نو لمونځ ورته پریږدی او که ورته ووایه چی کار ته لاړ شه نو په منډه منډه به ورزی او بعضی خلک چی له کار سخه راشی نو قرار ویده شی هیڅ د مانځه په کیسه کی نه وی  دا ټوله دوکه او فریب ده د دې نه باید زان وساتو او په هیڅ وجه لمونځ قضاء نه کو.

**واقعه:**یو کتاب ده د هغې کتاب نوم (تنبیه الرجال) دی هغه کتاب کی لیکل شوی دی چی کوم کس د پنځه وختونو مونځ حفاظت(پابندی) وکړي د دې اکرام او عزت وکړي الله رب العزت دیارلس (۱۳) کراماتو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱)محبت کوي دې سره الله (ج) ۲)د دې بدن به صحت مند وي

۳)فرشتې به د دې حفاظت وکړي۴) د دې په کور باندې به رحمت نازلیږي ۵) د دې په مخ باندی ظاهریږي نور د صالحانو

۶)قبر د عذاب نه به محفوظ وی ۷)په پل صراط باندې به د تیزې هوا په شان شي ۸)الله (ج) به ده ته نجات ورکی د جهنم د عذاب سخه ۹) د حساب او کتاب په وخت کی به الله (ج) ورسره اسان حساب کوی ۱۰) د رسول الله (ص) شفاعت به یی نصیب شی

۱۱) الله (ج) به ورته تاج ور په سر کړی ۱۲) الله (ج) به ورته ځای ورکړی ده ته جنت کی د صالحانو خوا کی ۱۳) الله (ج) به ورته خپل دیدار نصیب کړی

تاسو وګورئ چی الله (ج) څومره مهربانه ذات دی چی په پینځو وخته مونځونو پّ بدله کی الله (ج) دیارلس (۱۳) لوی لوی نعتونه ورته نصیب کړی باید چی هر انسان دغه نعمتونه حاصل کړي

الله (ج) مونږ او تاسو ته د عمل کولو توفیق راکړی.

د نبی کریم (ص) ارشاد مبارک دی چی سوک په ښه شان سره اودس وکړی بیا د مانځه لپاره مسجد ته ولاړ شی هلته چی ورشی ورته معلومه شی چی جمع تری شوی ده بیا هم د جمعی ثواب یی وشو او د دې ثواب په وجه د هغې خلکو په ثواب کی هیس کمی نه کیږې کومو چی د جمع سره مونځ کړی وی یعنی د ثواب هم یو په اووشت(۲۷) اوشو خو یو شرط پکی دا دی چی دا فکر وی چی زه جمع ایسارولی شم او دا نیت یی نه نو ثواب(۱-۱) یو په یو درجه ده مثلا ته ساعت ته ګوری جی وخت اوړیدلی بیا هم مسجد ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمعی په نیت ځی نو ثواب ورته نه ورکول کیږي مطالب ده ته معلوم وی چی جمع رانه شوی ده.

**تشریح:**مونږ او تاسو باید د مانځه طریقه زده کړو او په خشوع او خضوع سره مونځ وکړو لکه سنګه چی دغه بزرګ وه:

**واقعه:** امام زین العابدین یوه ورځ په جومات کی مونځ کولو ناڅاپه د هغه مسجد په چت باندی اور ولږیده او هغه هم هغسی مانځه ته ولاړ وه خلکو چی ده ته وکتل جی امام زین العابدین دننه په مسجد کی ولاړ دی نو هغوی شور جوړ کړو لیکن امام زین العابدین همغسی په مانځه مشغول و کله چی پخپله د مانځه نه فارغ شو بهر رووااتو خلکو ورته عرض وکړو جی په مسجد کی اور لږیدلی وه مونږ خو ډیر کوشش وکړو او اوازونه مو دریاندی وکړل خو تاسو زمونږ اوازنه نه اوریدل زین العابدین صیب ورته وفرمایل چی تاسو زه د دنیا د اور نه بچ کولم لیکن زه په دغه وخت د الله (ج) په حضور کی ولاړ وم او د الله(ج) قهر د اور نه می ځان بچ کولو چی هغه د جهنم څه د جهنم اور د دنیا د اور څخه غافله کړی وم ځکه می ستاسو اوازونه نه اوریدل چی ټول سوچ او فکر می الله(ج) طرف ته وه.

**دوهمه واقعه:**یوه نیکه او صالحه بي بي وه جی کور کی تنور لمبه کړ او بیا د لمانځه نیت وکړو او دا خیال یی وکړو چی مونځ ادا کم نو بیا به ډوډی پخه کړم د دې یو ماشوم بچی وه چی په کور کی لوبی کولې شیطان لعین راغی او دا ماشوم یې د تنور خواته بوتلو او بیا یې مور له راغی او مور ته یی وویلی چی ستاسی ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچی تنور خوا ته تللی ده مونځ پریږده او ماشوم دی بچ که هسی نه چی په اور کباب شی لیکن هغه صالحي بي بي هیڅ خیال ونکړو او په خپل مانځه کی مشغوله وه شیطان زیات غوصه شو او هغه ماشوم بچی یی په تنور کی واچوو او بیا یې د بی بی ته وویل چی ته لمونځ کوی او ماشوم بچی دی کباب شو زر لمونځ خلاص کړه او ماشوم دی بچ که خو شیطان زیاته هسه وکړه چی د بي بي په توجو کی سه فرق راولی خو کامیاب نشو او بی بی خپل المونځ کی مشغوله وه شیطان شرمنده او رسوا لاړه کله چی بی بی له لمونځ څخه فارغه شوه ډیر په ارام سره د تنور خواته لاړه چی وې کتل بچی یی ژوندی په تنور کی ناست دی او د اور لمبې وهی او ماشوم د سکروټو سره لوبی کوي کله چی ماشوم سکروټه خولی ته نیزدی کوی نو فوراً سکروټه یخیږی.

**نصیحت**: تاسو اوس فکر وکړی چی دی هغه وخت خلکو سنګه لمونځونه کول او راشه زمونږ مونځونه ته فکر وکړه چی یو کس په مانځه د دکان سوچ کول تاجر د خپل تجارت سوچ کوی کسب ګر د خپل کسب سوچ کوی نو فلهذا زما محترمو مسلمانانو ورونو!

الله(ج) مونږ پیدا کړي یو صرف د عبادت لپاره ځکه الله تعالی خپله فرمایلی چی ( ما نه دی پیدا کړی پیریات او انسانان مګر د عباد لپاره.

مونږ او تاسو مسلمانان باید د الله(ج) عبادت په ډیر زیات وکړو ځکه چی اصلی مقصد زمونږ عبادت ده دا نور کارونه صرف د دنیا معاملې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عبادت ځکه ډیر وکړو  چی د مرګ او د ژوند هیڅ معلومات نه کیږی چی کله به مړه کیږو . نو د مرګ سخه وړاندی دا فکر کول پکار دی چی زات ته اخرت لپاره سه توخه جوړه کوه ځکه مړګ سخه وروسته هیس شی مونږ نه ګټه نه کوی بغیر د نیک اعمال سخه  او د دنیا ژوند پسی به ډیر ارمان وکړو خو بیا به وخت تیر وی نو دی دنیا کی مونږ ته ډیر زرین چانس ده باید استفاده تری وکړو او ځان ته د نیکو اعمالو توخه برابره کړو.

ای مسلمانانو ورونو او خویندو! د الله(ج) تابعدار شی چی الله (ج) راضی شی بیا خو ټول عزتونه او ذلتونه د الله (ج) په قدرت کی دی نو الله (ج) به درته عزت نصیب کی او له زلت سخه به دی وساتی  او بله خبر دا چی زمونږ اصلی کور اخرت دی چی هغه بیا نه ختمیدونکی ژوندی دی د دنیا ژوندی خو الله (ج) د دوه ورځو لپاره راکړی او  هغه هم امتخان لپاره نو کوم انسان کی چی عقل وی هغه دایمی ژوند د دوه ورځو ژوند لپاره نه خرابوی  چی سوک د دنیا ژوند باندی دوکه کیږی هغه سخه بل ساده او کم فکره نشته او  هوښیار سړی کوښښ کوی چی دایمی ژوند جوړ کړی

نو الله (ج) دی اول ماته بیا تاسو ته په دی خبرو د عمل کولو توفیق راکړی او الله (ج) د زمونږ شوق او محبت له اسلام او د عبادت سره پیدا کړی(امین الهم امین)

د دعاء

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**